**لیکوالکو**: میدیا بنیا مین او نیکولاس جی اس دیویس.
منبع اود خپریدو نیټه : ګلوبا ل ریزرچ «03-04-2020» .
ژباړونکی : پوهند وی دوکتور سید حسا م «مل».
------[ 43 ]--------------------------------------------------

# آیا کوید نولس کولای شي چې نړیوال رهبری ته بدلون ورکړي ؟

## Could COVID-19 reshape Global Leadership ?

لکه څنګه چې په متحده ایالاتو کي د **کوبید نولس** په ناروغی با ندې داخته کید و پیښی دهر څو ورځو په تیریدو سره دوچنده کیږي اود مړنـي شمیر لوړیږي ، نو متحده ایالات د نړي په پړتله ترټولو (بد حا لت) کی راګیر شوي دي . ورځنی ژوند اوداقتصاد دڅرخ ډیر برخي په ټپه دریدلي دي اود دي ناروغي په مخنیوي کي هیڅ پرمختګ نه دي شوي یعنی چی دامریکی مسلو مقاماتو دخپل هڅی او اند په نتیجه کي څه داسی ځا نګړي لاسته راوړنـي نه لري .

په ورته وخت په **چین** کي د **وهان** (wuhan) یولس ملیون خلکو چیري چي دکرونا ویروس د نا روغي په پا ند یمي کي راګیر یا لاس په ګریوان وه ، خپل نورما ل ژوند ته بیرته را ستنید نه پیل کوي، د ښار د مترو سیستم د بیا فعا لید و سره سودا ګري یا راکړي ورکړي بیرته پرانیستل کیږي ، **دوهیی** (د دوهان مرکز) کي تیره اونـي (4,6) ملیونه خلک کا رته را ستون شول ، په داسي حا ل کي چي نور (2,8) ملیون نفر د **هویی** (Hubei) له قرنطین څخه د**چین** په نورو برخو کي دندی ته راستانه شوي . یعنی پراخ کډوالي چي یوه میاشت مخکي چا دهغه تصور هم نه کول ، نړیوال سوداګري اونړیوال مسا فرتونه تر هغه وختـه پوري چي نړي له (کوبید نولس) څخه په بشپړ بڼی سره خلاصون نه وی موند لي عادی بڼه به غوره نکړي ، نو په دي ډول هیڅ یوهیواد په بشپړ توګه نورما ل حالت ته

نشی را ستنید لي ترهغه چي نورهیوادونه په نوموړي ناروغی با ندي اخته وي یا ورڅخه نجا ت نه وی موند لي – بیلابیل هیوادونه هڅه اواند کوي چي دخپل متفاوت ستونزو دحلولو په تړکل سره نسبت دخپل اقتصا دی ، سیا سی ،اوصحی سیستمونو په لرلو سره لاره بهبودی خواته اواره کړي . مونږ ټول کولای شو له یو بل څخه زده کړو اومونږ به ددی لاری پخپل کولو سره کولای شو یود بل سره مرستی وکړو ، بی ویلو دی پا تي نشی چي دغه ویروس (کوبید نولس) عمد تاً د شتمنو هیوادونو خلکو ته زیا ت زیا ن رسوی یا چی ددی هیوادونو زیات خلک په دغه ناروغي باندی اخته شوی اوداځکه چي ددی هیوادونو خلک زیات سفرونه کوی او دغه ناروغی له یو هیواد څخه بل هیواد ته ورنقلوی ، نو تر هغه چي دغه ناروغي دنړي په سطح کي بلکل له مینځه تللی نه وی یا چی له مینځه لاړ نشي نو هیح یو هیواد به له دی ناروغی مصون او خوندی پا تي نشي.

نړیوال روغتیا یی سازمان (WHO) په وار وار سره ټینګار کړي چي په دي ناروغی باندي داخته کس پیژند نه یا تشخیص د پوخت ارزوني اودازما یښت (ټست) په سرته رسولو باندي کیږي کوم چي دا پخپله دکوبید ویروس نولس سره په مبارزه کي اصلی او ضروری اقدام دي اوهغه هم په دي مفهوم چي په دی ناروغی باندي داخته کس بیرني پیژند نه چیری چی که دناروغی نښی نښا نی وښیی اویا داچي ونه ښیي ډیر مهم اوکلیدی اقدام دي .

په آیسلند [شما لي اتلانتیک بحرکې یو ټاپو هیواد ،د ارکټیک سرکل په سویل کې ، د مینځنی اطلس سمندرد څنډې شما لي پای کې ، په خوځیدونکي ډول فعا ل ، یوازې « 20 »سلنه د اوسید ووړ دی؛ نفوس یي په کال (2009) کی ( 306،700 ) اټکل شوی پلازمینه یی ریکژیک؛ رسمي ژبه ، آ یسلنډي .دی ....تفصیل ددی قلم پواسطه سره ] دازمویني پا یلو کوم چي دبل هیواد په پرتله دخپل نفوس ډیری ازموینی ترسره کړ ي ، ښود لي دي چي تقریباً دهغه هیواد نیما یي نفوس دکوبید نولس سره اخته بیاهم د ناروغي نښی اونښا نی نه دي ښود لي ؟ نو ددی اصل په نظر کي نیولو سره چی یوائی هغه اشخا ص کوم چی دناروغی نښی اونښاني لری وازمایل ( Test) شی اوهغو چی دناروغی علایم نه لری ودی نه ازمایل شی نو دی پایلي ته رسیږو چي ددی نا روغي مخه نشو نیولای – لهذ ا هغه ډیر ضرور اقدام کوم چي وشو کړي چي ددی ناروغي دپراخیدو واټن په ګڼری بڼی سره ودروو یا دهغه دپراخیدومخه ونیسو هغه دخلکو کتلوی قرنطین دي کوم چي د سیستما تیک تما س تعقیب او ازموینی لپا ره هیڅ بد یل نه لری .

چین د(40000) طبي کارمندانو په ګمارلواود تما س پراخه تعقیب او ازموینې په واسطه ویروس له مینځه وړی ، اودا هغه بیلګه ده چې نورو شتمنوهیوادونو چې د( COVID-19 )

په وړاندې محدود بریالیتوب درلود د تعقیب هڅه یې کړې. آلما ن په اروپا کې د نورو لویو هیوادونوپه پرتله ډیر ښه فعا لیت کړی ،د( 66000 ) پیښو، یا قضیو سره اخته مګر یوازې ( 645 ) مړینې. نورو هیوادونو چې دخپل نفوس لږتر لږه ( 0.5 ) سلنه خلک ازموینه کړې مرګونه یې حتی ټیټ سا تلي دي. د مارچ تر( 30 ) پورې ، شمیر دا سی و و:
استرالیا (د مارچ په 30 مه 17 مړینه)؛ اتریش (108)؛ بحرین (4)؛ کاناډا (65)؛ ایستونیا (3)؛ آیسلینډ (2)؛ لاتویا (0)؛ مالټا (0)؛ ناروې (32)؛ سینګا پور ( 3)؛ سلووینیا (11)؛ سویلي کوریا (158)؛ سویس (359) او امارات (5).د ډیر ځنډ وروسته ، متحده ایالاتو لا هم یوازې( 0.3 ) امریکایان ازموینه کړې ، اولا هم د خلکو معا ینه کوي په عمده ډول ناروغی د نښو اونښانو په په اساس معاینه کوی ، نه د اړیکې یا نه دهغو چې دناروغ سره په تماس کې راغلي دي .
بډا اوی شتمن هیوادونه کوم چي د( کوبید نولس ) دویروس دپراخیدو ایا دشیوع په مقا بل کې په لمړیومرحلوکي ونه توانیدل چې مبارزه وکړی اویا دهغه دپراخیدو مخه ونیسی دهغه اصلی علت دا دی چي دغه هیوادونه په کافی اندازه سره دناروغی دتشخیص لپاره کافی تجهیزات لکه د ټیسټونو کیت ، وانتیلاتورونه ( یعنی د تهویی ما شین یا پکي ) نه درلودل چي وشی کړي خپل زیات شمیر خلک ټیسټ کړي ،نو له دی وجهی څخه څرنګه نا دا ر هیوادونه کوم چي نوموړی وسایل یا طبی تجهزات نه لری چی و به کړی شی چی ددی ویروس سره مبا رزه وکړی چي طبعاً د یولړ ستونزی سره مخا مخ دی اما له نیکه مرغه نادار هیوادونه هسی سترا تنیژی خپیله کړی چي هغه ښه کا ر ورکوي.
ویتنام دخپل محدودو منابعو اودازموینی دزیات شمیر کیټوتو د نه لرلو سره سره داسي بریښی چی د**چین** سره داوږدي پولي په لرلوسره بیاهم دنوموړی ویروس دپراخیدو مخه نیولی دی اوهغه داچي دمارچ تر (30) پوری ویتنام کي ددی ویروس سره داخته کسانو شمیر (203) کسه وه اما بی له کوم فوتی یا مړنی څخه . **نو ویتنام څه کړي دي ؟**
دویتنام دعا مه روغتیا سیستم داسی تنظیم شوي چی دهغه سیستم په کارولو سره ویتنام خپل (89) سلنه خلک ته پراخه روغتیایی خدمات وړاندی کوي اودخپل ټولني لپاره په هره حوزوی برخه کی ډاکتران ،نرسان ، پرستاران اوطبی کارکونکي ګمارلی چی له خلکو څخه طبی مراقبت وکړي نوپه دی لحاظ هر هغه څوک چي ویتنام ته داخلیږي هغه د موظف طبی تیم د کارکنا نو له خوا معا ینه کیږی نو که چیری هغه تبه اویا داسی نور علایم ولری نو هغه یا قرنطین کیږی یا روغتون کی بستر کیږي اوهم هغه شمیر خلک چی د کور په د ننه کي د قرنطین د ستورات نه مراعت کوی نو هغوی هم د قرنطین کمپ ته لیږي او تر

(14) ورځو پورې هلته يې سا تي دا امردومره شد يد دِی چې هرهغه څوک چې  دناروغی د مخنیوی له لارښودونو څخه سرغړونه وکړی  نو دهغه  نوم په سمیز ورځپا نو  کي خپور کيږي  اوله خلکو څخه غواړي چې که څوک هغه سرغړونکي  پيژنی   نو دهغه ادرس بايد چې سیمیز طبی کارکونکو ته ډالی کړی  چي هغه  قرنطین کړی  اویاکه چیری  کوم اجنبی کس چې په ناروغی باندی اخته وی دهغه ادرس دغه طبی کارکونکی ته  ولیږی چې هغه ته طبی مراقبت کونکی ولیږل شی .

که چيري دويتنام دهستوګنی  په يو تعمير يا آپارتمان کي  په کرونا ويروس باند ي په کوم کس  شک وشي چي هغه په دی ويروس باندي اخته دي  نوهغه آپارتمان  تر (  14 ) ورځو پوری قرنطين کيږي په ويتنام کی قرنطين شو ته دری وار خواړه دډیر کمو پیسو  په ارزش سره برابريږي دهستوګنی د تعميرونو  په درشل  يا دخولی  دروازو کی د ضد عفونی  مواد ځاي پر ځای شوی چي خلکو  دورود په وخت کي بايد خپل لاسونه تميز کړي  - همدارنګه په ويتنا م کي هوټلونه  په ويروس با ندی د مبتلا خلکو  لپا ره د قرنطين  د يو محل   په بڼه يکا ر وړل کيږي همدارنګه په ويتنام کي د تليفون پواسطه سره هم ډاکترانو اوطبی  پرسونل اړو خلکو ته  ددی ويروس دمخنيوی په خاطر لار ښونه کيږي  ، ويتناميان  تول له يو سره ماسک اغوندی سره دهغه چی دماسک زیرمی  يو څه محدود هم دي  اما هغه څه چي دويلو دی هغه دادي چي په ويتنام کي پر طبی وسا يلو باندی  چا احتکار ته لاس نه دی وروړي او همدارنګه دما سک قيمت  نه دی لوړ شوي .

***تا يوان*** د ***چين***  بله ګاونډی  ***دکوبډ نولس*** لپا ره   بل ډول  مختلف  چلند غوره کړي  کوم چی دغه چلند  هم دويروس  دخپريد و مخه نيسی اوهغه داچی دتايوان روغتيايی سيستم هم تولنی ته په زړه پوری طبی تسهيلات وړاندي کوي ، تايوان د***چين*** سره هره ورځ ډير زيات پروازونه  او الوتنی لرل کوم چی تايوان  ددسامبر له (31) نيتی کال (2019) څخه وروسته پر پروازونو با ندي   بند يز  ولګول او نژدی دری ميا شتی مخکی له متحده  ايالاتو  څخه ***تايوان*** لکه د سهيلي کوريا په شا ن ***دکوبيد ويروس*** دمصا بينو د پيژند لو لپاره په  ازمايښاتو او تستونو با ندی پيل کړي دي  ترڅو چي مشکوک واقعات وپيژنی او له جميعت څخه ليری چيری قرنطين کړي ، ***تايوان*** پرملی تعطيلاتو با ندي بند يز ولګول  مګر خپل  ښونځی  يی ونه تړل بلکه شاګردانو لپاره  محفظوی کا بينونه  جوړ کړ چی  شا ګردان   سره  له نژدی تما س ونه نيسي يعنی چي دهغوی ميزونه او اړخ په اړخ ناسته  له مينځه ويوړل – ***تا يوان*** همدارنګه دخپل محدود ما سک د زيرمی په لرلو سره بيا  هم  ما سک په خلکو ويشی  او په ***تايوان*** کی د (306) په ***کرونا***  با ندی د مصا بو خلکو له جملی  څخه يوځی  (5)  تنه خپل

ژوند دلاسه ورکړي دي .

***جا پان*** او ***تا یلند*** دواړه په کرونا ویروس سره دمصا بو کسا نو شمیره اودهغه څخه د مړني تیټ رقم ګذارش کړي. اما دغه امار یا ارقام ممکن له هغه څه څخه چي راپور ورکړ شوی کم اوسي یا داچي ا صلي شمیره پټ سا تل شوی وي ، جا پا ن په نړۍ کي ترټولو زاړه نفوس یا جمیعت لري کوم چي په اوس حا لت کي دغه هیواد دغتا نو په نفس تنګي او د تنفس په مختلفو نا روغیو با ندي د اخته کسا نو ډیر واقعات لری چی دا پخپله ***دکوبید*** ناروغی د ددرملنی لپا ره لوی ستونزي رامینځته کړي چي حتی د دی ویروس د پیژند نی لپاره د ټسټونو تر سره کولو کي هم یولړ محدودیتونه را مینځته کړي مګر بیا هم دهغه هیواد طبی کارمندان دخلکو دژوند د بقا لپاره خپل هلي ځلی ته دوام ورکوي – ***تایلند*** ډیر دودیزی چلند غوره کړي او ممکن دي چي ددی ویروس څخه راپیدا شوی ناروغی ډیررا څیرل شوی پیښی هم ولري دمارچ تر (30) پوری جاپان ( 1866 ) ددی ویروس واقعات لرل چی دهغه له جملی څخه (54) د مړینی پیښی درلود ، په داسی حا ل کي چي ***تایلند*** (1524) پیښه او (9) مړینی را پور راکړي دي .

بل هیوادچی د لید و وړدي هغه ***ونزویلا*** دي کوم چی لا دمخه په خورا سخت حا لت کی پروت دي اوداداسی چی په دي هیواد کي له کا ل (2017) څخه راهیسی یعنی له هغه وخته چی دامریکی د ظا لما نه اقتصا دی بند یزونو سره مخا مخ شوی نو کم ترکمه دهغه هیواد (سل زره ) خلک خپل ژوند دلاسه ورکړی دی اوداځکه چي د هغه هیواد دخلکو لاس رسی خواړه ، درملو او دژوند نور احتیاجا تو ته نه رسیږی چی دهمدی حا لت په نظر کي نیولو سره دملګرو ملتونو سرمنشي ښاغلي ***انتونیو ګوتا ریس***(Antonio Gutters) دبند یزونو لیری کول غوښتنه کوی کوم چي ډ یرو امریکا یا نو دهغه له دی غوښتنی څخه ملاتړ کوي اوبیا په ځا نګړي بڼی سره کوم چی د دی ویروس دراتلو تصور دا سی یو هیواد ته چی د داسی یو نا وړی حا لت سره مخامخ دی چا نه کول .

اما هغه څه چي دویلو دی اوپوره حقیقات لري ، هغه دا دي چي ***وینزویلا*** د مارچ تر (30) پوري د ***کوبید نولس*** (129) سره اخته کسان درلود چې دهغو له جملی څخه (3) کسه خپل ژوند دلاسه ورکړی .***چین*** دغه هیواد ته (320000) دازموینی یا ددی ویروس د تشخیص لپا ره د ***تسټ کیټونه*** دروغتیایی متخصیصنو ټیم اوپه ټنونو نور لازم توکي ولیږل همدارنګه کوبا (130)ډاکتران اوبه حدود د(10000) دوز انترفیرون (interferon) یعنی هغه دوا چی ***چینیا یا نو*** په نوموړی ویروس با ندی داخته کسا نو تداوی ترسره کړ اوهغه یی یو موثردوا وګڼل اوپه درملنه کي ورڅخه بریا ترلاسه کړ ، روسیه هم نوموړی هیواد

*ته طبی تجهیزات اوځنی نور اکمالات هم ولیږل .*

***ونزویلا*** *لکه د* ***ویتنا م*** *،* ***تا یوان*** *اولکه د نورو هیوادونو په څیر یو جامع روغتیایی سیستم لری چي خپل جمیعت ته روغتیایی خدمات وړاندي کوي نو کله چي په دی هیواد کي د کوبید نولس لمړنی وافعه تثبیت او تاید شو ، نوحکومت ټول ښونځي ،رستورانونه او تیا ترونه وتړل او په لسو ورځو کي (12,2) ملیونو خلکو دخپل روغتیا یی حا لت په اړه پوښتن لیکونی فورمی بشپړ کړ او (20000) خلکو چی دناروغی دعلایمو راپور ورکړي وه دخپل کور په دننه کي د تیلیفون دلاری د طبی ټیمونو مشوری تر لاسه کړل د بلی خوا څخه د دی هیواد دخلکو ځنی دواطلب ګروپونه د ما سک په جوړولو لاس پوري کړ او په حدودد (12000) طبی شاګردان دتلیفون پواسطه سره خلکو ته د مشورورکول لپاره ځا نونه چمتو کړل د کورونو اود آ پارتما نونوما لکان د کورو کرایه معطل کړ دولت د کارګرانو اود استخدام شو خلکو د حقوقو اود معا شونو دورکولو اود تا دیه کول روند هم تضمین کړ .*

*نو په دي اسا س ونزویلا ددی رامینځته شوی توفان د برطرف کولو لپا ره په غبرګ تګل سره ځواب ویلي کوم چي خپل خلکوته وړیا خواړه ، وړیا روغتیا یی خد ما ت اوددی ویروس د پیژند نی لپا ره دوړیا ټستونو ترسره کول دي .*

***کوبا** د یو کوچني ضعیف او کم زوری هیواد یو بل مثا ل دی چي په دننه کي ددی ناروغي دپراختیا یا شیوع سره مخا مخ دي یعنی چي ډیر خارجي توریستان اوګردشګران دلته کور په کور په تګ او راتګ کی دي ، **کوبا** دمارچ تر دیرشم (30) نیتی پوری ددی ویروس (170) پیښی درلود چي دهغه له جملي څخه (3) خپل ژوند دلاسه ورکړ . ددی هیواد ټول پولي دټولو غیرنظا میا نو په مخ تړل شوي اودګردشګرانو پواسطه سره په حا ل دچلند اقتصا د روند په ټپه درید لي ، سربیره پردی* ***کیوبا*** *لکه د****ونزویلا*** *په څیر د متحده ایالاتودظا لما نه بند یزونوسره هم مخا مخ دي.چی دبهرنیواسعارودتر لاسه کولواود خوراکی توکو په رابرابرولو کي ستونزی لري اوهم ضروری روغتیا یی تجهیزات له بهر څخه نشي واردولي.*

*اما بیاهم ددی سختو ستونزو په لرلو سره دغه هیواد خپل داخلي چا ری تر پوره نظارت لاندي لری اوپه عین وخت کی ایتالیا ته ډاکتران اونرسان هم ولیږل او په ورته بڼی سره نورو هیوادونو لکه* ***ونزویلا*** *،* ***نیکاراګوا*** *،* ***جمیکا*** *،* ***سرینام*** *او* ***ګرانادا*** *ته هم خپل طبی پرسونل د مرستو د ترسره کولو لپاره لیږلي دي چي داپخپله نړي ته داتلولی نمونه وړاندی کوي مګر له بده مرغه له هغه ځای څخه چي* ***کیوبا*** *یو کوچنی اویو بی وزله هیواد دي*

چې وشی کړی ددی جهانی نا روغی سره مبارزه وکړی اودهغه له شره څخه ځان خلاصه کړي .

## نړی دنوی مشرتا به په لته کي :

د نړی په څو هیوادونو کي دکوبید نولس (CoVID-19) دراپیدا شوی ناروغي ته دا کتنه دهغه څه یواځی انځوردي چي اوس ورسره مخ دي یعنی هره ورځ د دی ویروس څخه داخته کید و اود مړینو شمیر په زیا تید و دي اوهیڅ یو هیواد پرته **دچین** دا ویروس نه لرل مګر څنګه چي په آسیا ، افریقا ، اولاتین امریکا کي دنا دارو هیوادونو ډیر شمیر خلکو په ناروغي اخته کیږي مګربیاهم لکه د **ویتنا م** او**دکوبا** په څیر داسی په زړه پوري روغتیایی تاسیسا ت اوزیربنا وی نه لری ، نو په دي اسا س هغه هیوادونه کوم چې دهغو زیات شمیر خلک په ناروغی باندی اخته کیږي اوخپل ژوند دلاسه ورکوي نو همدغه مرسته کونکی هیوادونه دی چی د څه کسا نو د مرستی لپاره مراجعه کوي .

متحده ایالات هڅه اواند کوي چي خپل موجوده ستونزي د **کوبید نولس** ویروس په وړاندي حل کړي ، اوهغه داچي دغه هیواد دراتلونکو ډیرو میاشتو لپاره دډیر پیچلي حا لت سره به یی مخ وي چي څنګه وشي کړي چي په کافی اندازی سره وینتلترونو(تهویی ماشینونه ) محافظوی طبی تجهیزات ،دویروس د پیژند نی لپا ره په کا فی شمیر د تست کیټونه اوطبی کارمندان چمتو کړي نودهمدی نیاز په لحاظ امریکا په اوسني وخت کي نشی کولالی چي دنورو هیوادونو سره مرسته وکړي اویا طبی لازم تجهزات نورو هیوادونو ته ولیږي .

له بده مرغه متحده ایالات هم ددی ویروس سره په مقابله کي پا تي راغلي یعنی چي **دکوبید نولس** سره په مبارزه کي کوم بریا لا سته راوړنه نه لری بی ویلو دی پا تي نشی چي د مارچ تر دیرشمه (30) دغه هیواد مخکی له دی چی دغه ویروس په **چین** کی څوک په نا روړغي اخته کړي په امریکا کی دهغه ناروغی پیښی لیدل شوی وه – **چین** دامریکی د نفوس څلور برابره دی اوخبره دادی چي امریکا یا ن بلکل هک اوپک دی چي **چین** څنګه وکړای شو چي ددی نا روغي په وړاندي بریا ترلاسه کړي حا ل داچي **دونالد ترامپ** د امریکا یا نو د (سلو زرو) ومرګ ومیر د یو (ښه سناریو) په عنوان وړاند وینه کوي کوم چی دا پخپله نړیوال ته دامریکي درهبری کمزوری ، ضعف نفس او بی باوری په ډاګه کوي.

له بلی خوا څخه **چین** په پراخه کچي سرهغه دخپل نفوس له مینځ څخه ددی ویروس تغررا تیوله کړي یا یی له مینځه وړي او اوس خپل ترلاسه شوی تجربی د نورو هیوادونو سره شریکوي نو ددی ویروس سره په مبا رزه کي **چین** ډیر ضروری طبی تجهیزات پخپله

جوړ اوچمتو کړی دی کوم چی عبارت دی له ماسکونو ، درملی ، د تهویی ماشینونه اود نا روغی د تشخیص لپاره ازما یشی کیټونه اوداسی نور .... اوپه عین حا ل کی **چین** اوس خپل ټولو هغه شرکتونو ته هدا یت ورکړي چي د دغه لازم طبی تجهیزاتو تولید لا زیا ته کړی کوم چی دهغو څخه په مستقیم اویا غیر مستقم ډول را پلوری او بیا د نړي د نورو هیوادونو تقاضا ددی تجهیزاتو د ترلاسه کولو لپا ره پرځاي او خپل چمتوالي ښودلي د ي .

همدا راز **چین** د نړی په کچه هیوادونو سره دخپل تجربی څخه دپیښی او درسونو په اړه معلومات شریکوي ، په دی کړکیچ کي د**چین** د رول په اړه ولوید یز نظرونه پر **چین** باندي دملامتیا پړي اچونه دي او هغه داچي ولی **چین** په **ووهان** (*Wuhan*)کی ددی ویروس له راپیدا کیدو بیا دخپل د ترلاسه کړ شوی تجربی اود اشخا صو اوافرادو د شخصی آزادیو د محدودیت یا د قرنطین کید وڅخه ترلاسه کړ شوی معلومات له نورو هیوادونوسره شریکه ونکړحا ل داچی نور ټول هیوادونه دهمغه ورته ستونزی سره مخا مخ دی کوم چی **چین** په لمړیو مراحلو کی دهغه ستونزی سره مخامخ وه .

د متحده ایالاتو ما تي او نا کا مي او **چین** دی بحران یا کړ کیچ ته په نړیوال غبرګون کی دمشرتا به رول زمه واری یا رول په غا ړه اخیستل آیا کیداي شی چي نړي د څو قطبی کید و لپاره داغوښتون یا دعطف ټکي وګرځي کوم چي په هغه کي چین په نړیوال رهبری کي دامریکي په اندازه مهم وګڼل شي ؟ اوآیا **چین** دا کولای شي چي دمتحده ایالاتو دامپریالږ دځواک ویجاړونکي اړخونه او خطراتو باندي اغیزناک څیړني یا بررسی ترسره کړي ؟

په یاد موبا ید اووسی چي **چین** دځو لسیزو لپاره د **ډینګ ژیا وپنګ** (**24 کرکټر**) ستراتیژی له مخی په نړۍ کي خپل ځای یا موقیعت تعریف کړ : کوم چي تر دی د مه یي خورا ښه خد مت کړي دي – کوم چي وایي : خپل آرامي وسا تي ، خپل ځا ی او موقیعت و پیژني ، په آرامي سره دکارونو تر سره کولو ته جوړ جاړي شی ، خپل ظرفیتونه خوندي وسا تي ، خپل وخت په ښه شان سره تر سره کړي ، دخپل کرکټرپه ساتلو کي ښه اووسی ، اوهیڅکله دمشرتوب ادعا ونکړي .

له هغه وخته چي **خی جنپنګ** (*Xi Jinping*) په کا ل (1202) په چین کي واک ته ورسید هغه په بشپړه ډول دخپل تاریخ یوه نوی پړاو ته د**چین** دلاربنود دنده خپله کړي یا چي هغه ته ورسپارل شوی دي چي **چین** د(**24 ستراتیژیک کرکټر**) څخه ها خوا **چین** داسی موقیعت ته وګرځی چي په هغه کي د متحده ایالاتو ا قتصادی اودیپلما تیکی برابروالي ترلاسه کړي. لکه څنګه چي ډیر تحلیل کونکو یادونه کړي اویا لکه څنګه چي (**24 ستراتیژیک کرکټر**) څرګند کړي – **چین** باید په نړۍ کي دخپل نفوذ دتثبیت لپاره یوه روښانه ښه کرښه پرمخ

بوځی پرته له دی چي په نظامي توګه متحده ایالات وهڅوی اویا داسی اقدام وکړي چي نورهیوادونه د**چین** کړنی تها جمی یا تهد ید امیزوګڼی نودهمدی اصل په نظرکي نیولو سره هڅه شوی چي د سویلي **چین** سمند راو تاپو ګا نو اودنورو نظامی ا حتمالی اختلافاتوشخړی ته لمن ونه وهل شی او په ډیره احتیاط سره ګامونه اوچت کړل شي چي تکر مینځته رانشي د**چین** یوه **جاده اویوه کمربند** هغه **دچین** اقتصادی اتصا لی پروژه دي چي **چین** تر دی دمه په تتد ریجي بنی سره دنړی نورو هیوادونو پوري نښلوي کوم چی **دچین** یوه په زړه پوري اقتصا دی ارتبا طی ستراتیژیکي پروژه دي .

مګر هغه بحران چي نړی به یی په راتلونکو شپږو میاشتو یا یو کا ل پوري ورسره لاس او ګریوان وي هغه یو څه دي چي د دي ستونزي د اوارولو لپا ره مشرتا به یا یو لاربنود ته ضرورت لري کوم چي نړیوال روغتیا یی سازما ن لا د مخه په دي اړوند مهم رول لوبولی او لوبوي مګر دا مشرتا به یو لوی او قوی ا قتصا دی لرونکي ځواک ته ضرورت لري چي دخپل نسخو یا دوړاندیزونو بشپړولو لپاره خپل منابع چمتو کړي نو که چیري **چین** همدا اوس طبی تجهیزات ، درمل او تخصیصی پرسونل د راپیدا شوی ستونزی (دکوبید نولس) دمها رکولو رهبری پر غاړه واخلي نو نړی له هر وخته هغه ته اړتیا لری اوچین کولای شی چی دملګرو ملتونودروغتیایی سازمان ته په درناوی دشرایطو په نظر کي نیولو سره ددی کار دسرته رسولو مسولت پرغاړه واخلي **اودا ځکه چي نړی دڅو لسیزو په تیرید و سره د متحده ایالاتو یو اړخیزی بی پروایي ، بی قا نوی ، تجاوز د بین المللی قوانیو څخه سرغړونه اوبی اعتنا یی نړي دی حد ته رسولی چی دهغه څخه په بیزاری کی د چین ودی دول مشرتا به ته غاړه کیږدی اودهغه څخه هر اړخیزه ښه راغلاست ووایي.** اما غیر له دي څخه که چیری چین خپل لاس پکا ر وانچوي اویا جدی تیروتنه وکړي تل هیڅوک نه ، مګر ( **دونا لد ترامپ** ) اوپه واشنګټن کي با زان **(شاهینان)** به **چین** ته دهغه ناوړه **غبطه خوړونکي** ځواب ووایي چي دوروستی تاریخ په اوږدو کي دعامه روغتیا دخطر سره مخه کولو کی مرسته کوی – دا د**چین** لپاره فرصت دي چي خپل ساختاری نړیوال رهبری په یو داسی روش سره پکارواچوي چي دډیرو خلکو ژوند وژغوري اودنړی د قد رت په بد لو ن کي چی دا یی استاذ یتوب کوی ترسره کړي- مونږ دا تمه کولای شو چي متحده ایالات به هم په دی نوی څو قطبی نړی کي د ځا ن لپا ره یو ډ یر جوړونکي اومشروع ځای تر لاسه کړي کوم چي ډیر سوله ایز دعدالت سره برابر اوتلپا تي موقف وی .

**دلیکونکی په اړه څو کرښي :**

**میډ یا بینجا مین** ، د نړیوال تبا دلې او کوډ پینک شریک: د سولې لپا ره میرمن ، د ایران

*دننه لیکواله ده: د ایران د اسلامي جمهوریت واقعیت او سیا ست. د هغې پخوانیو کتابونو کې شامل دي: د بې عدالتی سلطنت: د متحده ایالاتو - سعودي اتصا ل ترشا؛ د بې پیلوټه الوتکې جګړه: د ریموټ کنټرول پواسطه وژنه؛ ډار مه کوئ ګرینګو: یو هوندوران میرمن د زړه څخه خبرې کوي ، او (د جوډي ایونز سره) اوس د راتلونکي جنګ مخه ونیسئ (د بحر عمل لارښود). په ټویټر کې هغې تعقیب کړئ: medeabenjamin*

***نیکولاس ج. ډیوس*** *د وینې په زموږ لاسونو لیکوال دی: د عراق برید او ویجاړول. هغه د 44 فصل ولسمشر په رتبه ورکولو کې د "اوباما په جګړه" فصل هم لیکلی: د بارک اوباما په لومړی دوره کې د پرمختګ مشر په توګه د راپور کا رت. نیکولاس یو آزاد لیکوال او د کوډ پینک لپاره څیړونکی دی.*

***------------------------------- په درنا وی (07-04-2020)***